611111 Volksschule Pestalozzi Leoben
Kerpelystr.13 | A-8700 Leoben
☎ +43(0)3842/7062-746
✆ +43(0)676/84 4062 746
✉ vs.pestalozzi@gmx.at
💻 http://www.schulen-leoben.at/vs-pestalozzi.html

Die Volksschule mit Profil
Persönlich – vielseitig - zuverlässig

---

محترمو والدینو،

په وروستیو کې مونږ له سختو شرایطو تېر شولو، خو ستاسو په مرسته دا هرڅه ښه مدیریت شول. یوازې دوکانونه او سوداګریزې چارې نه وې چې  وتړل شوې بلکه همداراز د هېواد ښوونځی هم تړل شوي وې. درسونه له کورونو څخه مخ ته تلل. ښایي ستاسو لور/زوی په هغه ډول چې په ښوونځی کې خپل درسونه  زده کول په کور کې داسي نه وي زده کړي ترڅو د راتلونکي ښوونیز کال لپاره تیار وي، ځکه چې په ښوونځی کې تل د زده کوونکو لپاره ښوونکي موجود وي او له زده کوونکو سره مرسته کوي چې خپل درسونه ښه زده کړي.

نو له همدې امله مونږ ستاسو لور/زوی ته د رخصتیو په ورستیو دو اونیو کې یوه ځانګړې د اوړي ښوونځی پرانیزو، تر څو دوی وکولی شي چې نوي ښوونیز کال ته تیاری  ونیسي او  همدارنګه خپلې آلماني ژبې ته هم وده ورکړي.

د اوړي ښوونځی ته  نوم لیکنه، د  نوم لیکنې ضمیمه شوي فورمې له لارې  ترسره کېدلی شي. د نوم لیکنې څخه وروسته د اوړي په ښوونځی کې حاضري لازمي ده. په مهربانۍ سره د نوم لیکنې فورمه د 2020 کال جون میاشتې تر 22 نېټې پورې وسپارئ.

د اوړي ښوونځی به په لاندې ځایونو کې شتون ولري:

Volksschule Pestalozzi Leoben, Kerpelystraße 13, 8700 Leoben

د امکان په صورت کې والدین یا سرپرستان باید د دوبي ښوونځی ته د تګ راتګ وسایط چمتو کړي. که چېرته هېڅ د تګ راتګ کوم  وسیله ستاسو سره نه وي، نو په مهربانۍ سره دا  موضوع د نوم لیکنې  په فورمه کې ذکر کړئ.

د خپل  لور/زوی نوم لیکنه وکړئ! مونږ د دوبي په ښوونځی کې ستاسو د ماشوم د هرکلي په تمه یو.. که تاسو کومه پوښتنه لرئ، نو په مهربانۍ سره زما سره اړیکه ونیسئ.

د ښوونځي مدیر

اضافي  فورمه، د ادغام بودیجې صندوق

VDir. Mag. Alexandra Baumgartner, BEd.

Schulleitung VS Pestalozzi Leoben / VS Leoben Leitendorf

د اتریش د ادغام بودیجې  صندوق (ÖIF) هم  یو څه لري چې والدینو ته یې وړاندې کړي :

ستاسو د ماشوم د روان ښوونیز بهیر لپاره دا ډیره مهمه ده چې تاسو د خپل ماشوم له زده کړو سره مرسته وکړئ هرڅنګه چې تاسو کولی شی. په دې برخه کې د مرستې لپاره د اتریش د ادغام بودیجې صندوق (ÖIF)  د هغو زده کوونکو والدینو ته چې ماشومان یې د دوبي په ښوونځی کې شامل دي کورسونه هم وړاندې کوي. د والدینو لپاره کورسونه به په ټولو ولایتونو کې د جون له 22 نېټې څخه چمتو شي او په مختلفو ژبو به وړاندې کیږي. په دغه کورسونو کې نوم لیکنه وړیا ده او تاسو کولی شي ددې ویب پاڼې ,[www.integrationsfonds.at/elternkurse](http://www.integrationsfonds.at/elternkurse) لارې او  – 51 10 01/715 263, ټلیفون له لارې او  همداشان په د ÖIF ټولو ادغام په مرکزونو کې نوم لیکنه ترسره کړئ.